سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۱/۲۷

# پښـــــتانه

خرڅيږی په کاغذ باندی شملي د پښتنو
بدرنګي دی سودا کړلي ديري د پښتنو

بازار دی بيرته کړی د لا لانو د دنيا
خرڅلاو ته را رواني دی رمې د پښتنو

خورکړی هرچا دام دی په يورنګ او په بل رنګ
رانغاړی په دامونو کی جـرګي د پښتنو

تعبيرد‌پښتون کيږی په قاتل اوپه وحشی
خرابې خام ملا کړی عـقيـدې د پښتنو

هرچا دی لمسولی دښمنی ته د خپل خان
وراپيږی يو په بل پسـی مورچې د پښتنو

څلويښت کاله پوره شول چی لګيږی په بمونو
هم غرونه هم رغونه هم درې د پښتنو

مقبول نه شووهيچاته کليواله پښـتانه
مقبولې رب «ج» ته هم نه دی توبې د پښتنو

فبروری/۲۸/۲۰۱۴
تورنتو ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ